هفته واره رساله

امیر اہلِ سنّت دامت برکاتہم العالیہ کی کتاب
"گفتگو کے آداب" سے چوتھی قسط بنام

# د فضول خبرونه

## د پرېښودو فضيلت

- د الله پاک فضول خبرې خوښې نه دي
- د انسان ښکلا څه ده؟
- د خبرو کولو او د چپ پاتې کېدو دوه قسمونه
- د شیطان د ټولو نه غټه وسله


شيخ طريقت، امیر اهلِ سنت، باني دعوتِ اسلامي، حضرت علامه مولانا ابو بلال
محمد الياس عطار قادري رضوي دامت برکاتهم العاليه

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖن ط
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

# د فضول خبرو نه د بچ کیدو فضیلت (1)

دُعائے عطّار: یا رَبَّ المُصطفٰے! څوک چې دا رساله " د فضلو خبرو نه د بچ کیدو فضیلت " ولولي یا واوري هغه د فضولیاتو نه بچ کړې، نیک یـې جوړ کړې او بیا بیا ورته حج او د مدینے منورې دیدار عطا کړې-

اٰمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د دُرُود شریف فضیلت

حضرت ابوبکر شِبلي بَغدادي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: ما خپل وفات شوے ګاؤنډي په خوب کښې ولیدو او پوښتنه مې ترې اوکړه: مَا فَعَلَ اللّٰهُ بِكَ؟ یعني الله پاک ستا سره څهٔ معامله اوکړه؟ هغهٔ ووئیل: زهٔ په ډیرو سختو کښې

[1] ... دا مضمون د امیر اهل سُنَّت دامت بَرَكَاتُهُمُ العاليه د کتاب " د خبرو کولو اداب" د صفحه 51 نه 67 پورې اخستے شوے دے-

راګير ووم (يعني په مصيبتونو کښې) ووم، د منکر نکير د پوښتنو جوابونه هم زما نه نۀ جوړيدۀ، ما په زړۀ کښې خيال اوکړو چې کيدے شي چې زما خاتمه په ايمان سره نۀ وي شوې! په دې کښې اواز راغلو: " چي په دنيا کښې د ژبې د غير ضروري استعمال په وجه تا ته دا سزا درکړے کيږي-" بيا د عذاب فرښتے زما طرفته را وړاندې شوې- په دې کښې يو ښکلے خوشبو والا صاحب زما او د عذاب په مينځ کښې ديوال شو او هغوئي ما ته د منکر نکير د پوښتنو جوابونه راياد کړل او ما هٰغه شان جوابونه ورکړل، اَلۡحَمۡدُلِلّٰه! عذاب زما نه لرې شو- ما هٰغه بزرګ ته عرض اوکړو: الله پاک دې په تاسو رحم اوکړي تاسو څوک يئ؟ وه يې فرمائيل: " ستا د ډير زيات درود شريف د لوستلو په برکت سره زۀ پيدا شوے يم او زۀ په هر مصيبت کښې ستا د مدد د پاره مقرر شوے يم-" (القول البديع ص: 260)

آپ کا نامِ نامی اے صلِّ علیٰ
ہر جگہ ہر مصیبت میں کام آگیا

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! دلته نن سبا د بده قسمته خاموش

اوسيدونکي خلق ډير کم ميلاويږي- د بعضو خلقو ژبې شپه ورځ چليږي، صرف د اودۀ کيدو پۀ وخت ورته لږ ارام ميلاؤيږي، او بعضې خو پۀ خوب کښې هم خبرې کوي! څوک چې ډيرې خبرې کوي بعضې وخت د هغۀ د خُلې نه دروغ هم وتے شي، غيبت هم کيدے شي، چغلي هم کيدے شي، رازونه هم څرګندوي، زړونه به هم ازاروي، د خلقو هره خبره د قينچۍ پشان د کټ کولو پۀ وجه به خپل عزت هم بائيلي، څو څو ځله به داسې هم شوي وي چې پۀ خبرو به ستومانه شوے وي، بيا د قړتن ګس " د خبرو " پۀ وجه به خو نور خلق هم تنګ شوي وي، نور خلق خو هم تنګيږي، خلق بيزاره کيږي او د ځان خلاصولو کوشش کوي- غرض پۀ ډيرو خبرو کښې بے شميره نقصانونه دي- ځکه خو چا وئيلي دي چې "نه بولنے ميں نو ګن( پۀ خبرو نۀ کولو کښې 9 خوبيانې) " ځکه چې اِنسان د خاموشه اوسيدو سره د ډيرو افتونو نه بچ کيږي- اللّٰہ پاک دې مونږ ټول بے ضرورته د خبرو کولو او د ژبې د افتونو نه بچ کړي-

اٰمِيۡن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صلَّی اللّٰہُ عَلَيۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِيۡب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د الله پاک فضول خبرې خوښې نهٔ دي

الله پاک فضول خبرې نهٔ خوښوي، د قرانِ کریم پهٔ 18 سیپاره سورة المؤمِنون آیت نمبر: 3 کښې د فضول خبرو پهٔ باره کښې ارشاد دے:

﴿وَالَّذِيْنَ هُمْ عَنِ اللَّغْوِ مُعْرِضُوْنَ﴾ ([مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او هغه خلق کوم چې د فضول خبرو نه مخ اړروونکي دي)

## د آیت مبارک تفسیر

پهٔ دې آیت مبارک کښې د کامیابۍ حاصلوونکو مومنانو دویمه خوبي بیان کړے شوې ده چې هغوئي د لَهو او باطل (یعني فضول) نه ځان بچ کوي- پهٔ دې آیت مبارک کښې د "لَغو" ذِکر دے پهٔ دې لړ کښې پهٔ تفسیر صراط الجنان جلد 6، صفحه 499 نه 501 پورې دي: علامه احمد صاوي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د "لَغو" نه مراد هره هٰغه خبره، فعل او ناخوښه یا مباح کار دے د کوم نه چې مسلمان ته د دین یا دنیا څهٔ فائده نهٔ وي لکه ټوقې ټقالې، فضول خبرې، لوبې، پهٔ فضولو کارونو کښې وخت ضائع کول، خواهشات پوره کول وغیره هٰغه ټول کارونه د کومو نه چې الله پاک منع فرمائیلې ده- خلاصه دا ده چې مسلمان ته د خپل اخرت د ښه کولو

د پاره پۀ نيکو اعمالو کښې مصروفه کيدل پکار دي يا چې هغه د خپل ژوند تيرولو د پاره د ضرورت مطابق د (حلال) مال ګټلو پۀ کوشش کښې وي-“ (تفسير صاوی، پ18، المؤمنون، تحت الاية:3، 1356/4، 1357)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!    صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د بے کاره خبرو نه د بچ کيدو ترغيب

پۀ حديثونو کښې هم د څۀ معنې نه لرلو او بيکاره کارونو نه د بچ کيدو ترغيب ورکړے شوے دے، نو د حضرت ابو هريره رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه روايت دے، رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلے دے: ” د اِنسان د اسلام پۀ ښه والي کښې دا دي چې هغه بے مقصده څيز پريږدي “ (موطا امام مالک، ج:2، ص:403، حديث:1718) يعنې چې کوم کار څۀ فائده نۀ ورکوي پۀ هغې کښې مۀ پريوځئ، ژبه، زړۀ او د وجود نور اندامونه د بے کاره خبرو طرف ته مۀ ګرځوئ- (بهارِ شريعت، 520/3، حصه:16)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!    صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## نجات څۀ شے دے؟

حضرت عُقبه بن عامر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائي: ”زۀ د حضورِ اقدس صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ

وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پۀ خدمت کښې حاضر شوم نو عرض مې اوکړو: نجات [خلاصے] څۀ شے دے؟ " ارشاد ئې وفرمائيلو: چې پۀ خپله ژبه قابو وموميې او ستا کور تاسو له ځائے درکړې (يعني بے کاره اخوا ديخوا مۀ ځه) او پۀ خپله خطا اوښکې توئيوه- (ترمذی، 182/4، حدیث:2414)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د ژبې د حفاظت ضرورت او د دې فائدې او نقصانونه

ياد ساتئ چې د ژبې حفاظت او خيال ساتل او د فضولياتو او لَغوِياتو نه دا ساتل ډيره ضروري خبره ده ځکه چې زياته سرکشي او د ټولو نه زيات فساد او نقصان د دې ژبې نه کيږي او څوک چې ژبه پرانستې پريږدي او د دې مهار سست پريږدي نو شيطان هغه پۀ هلاکت کښې غورځوي- د ژبې د حفاظت يوه فائده دا هم ده چې پۀ دې د نيکو اعمالو حفاظت کيږي ځکه چې کوم کَس د ژبې حفاظت نۀ کوي بلکې هر وخت پۀ خبرو کښې مصروفه وي نو داسې کَس د خلقو پۀ غيبت کولو کښې د اخته کيدو نه نشي بچ کيدے، داسې د هغۀ د ژبې نه د کفر د الفاظو د وتلو انديښنه وي او دا دواړه داسې اعمال دي چې پۀ دې د بنده نيک اعمال ضائع کيږي-

## د کجورو تال (واقعه)

حضرت امام حسن بصري رَحْمَةُاللهِعَلَيْه ته یو ګس ووئیل: فلانکي ګس ستا غیبت کړے دے- د دې اوریدو سره هغوئي غیبت کوونکي ته د کجورو ډک تال اولیږو او دې سره یې ورته دا پیغام هم ولیږو: "چې اوریدلي مې دي چې تا ماته خپلې نیکۍ ډالۍ کړې دي، نو ما د هغې بدله بهتره وګڼله (ځکه د کجورو دا تال حاضر دے) (منهاج العابدینن، ص: 65)

## خلق چرته ستاسو غاښونه مات نکړي

او دویمه فائده دا ده چې د ژبې د حفاظت سره اِنسان د دنیا د افتونو نه بچ کیږي، حضرت سفیان ثوري رَحْمَةُاللهِعَلَيْه فرمائي: د خُلې نه داسې خبره مهٔ راوباسئ د کومې اوریدو سره چې خلق ستاسو غاښونه مات کړي- او یو بزرګ رَحْمَةُاللهِعَلَيْه فرمائي: خپله ژبه بے مُهاره مهٔ پریږدئ ګنې دا به تاسو پهٔ فساد کښې اخته کړي- (منهاج العابدین: ص: 66)

## د یوې فضول پوښتنې ناشنا سزا (واقعه)

د ژبې د حفاظت نهٔ کولو یو نقصان دا دے چې اِنسان پهٔ ناجائزه او حرام، لَغو او بیکاره خبرو کښې مصروف شي او پهٔ ګناهونو کښې اخته شي او د خپل ژوند ډیر قیمتي څیز " وخت " ضائع کړي- د حضرت حسان بن

سِنان رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ نه روایت دے چې هغوئي د یوې بالاخانې (یعنې د کور په چت د جوړې کړے شوې کمرې) په خوا تیریدلو نو د هغې د مالک نه یـې پوښتنه اوکړه: چې د دې بالا خانې د جوړولو څومره موده وشوه؟ د دې پوښتنې نه پس هغوئي په زړه کښې ډیر پښیمانه شولو او نفس یـې مخاطب کړو ورته یـې داسې وفرمائیل: ''اے مغروره نفسه! ته په فضول او بے معنې پوښتنو کښې خپل قیمتي وخت ضائع کوې!'' بیا د هٰغې فضول پوښتنې په کفاره کښې هغوئي یو کال روژې ونیولې- (منهاج العابدین، ص: 65)

## د دوزخ عذاب څوک هم نشي زغملے

او دویم نقصان دا دے چې د ناجائزه او حرامو خبرو په وجه اِنسان د قیامت په ورځ د دوزخ په دردناک عذاب کښې هم اخته کیدے شي د کوم د زغملو طاقت چې د چا هم نشته- لهٰذا خیر په دې کښې دے چې اِنسان د خپلې ژبې حفاظت اوکړي او هغه د هٰغه خبرو د پاره استعمال کړي کومې چې دۀ ته په دنیا او اخرت کښې فائده ورکړي- الله پاک دې ټولو مسلمانانو ته د ژبې د حفاظت کولو توفیق ورعطا کړي- اٰمِیۡن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم (تفسیر صراط الجنان، پ 18، المؤمنون، تحت الاية: 3، 6/499 تا 501)

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## درانۀ عملونه

حضرت سیِّدُنا ابوذَر غفاري رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ بيانوي چې د الله پاک خوږ رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ماته ارشاد وفرمائيلو: " ايا زۀ تاته داسې عمل وه نۀ ښائيم کوم چې پۀ بدن سپک او پۀ تله کښې درووند وي؟ " ما عرض اوکړو: ولې نۀ- ارشاد يې وفرمائيلو: هغه خاموشي، ښه اخلاق او بے فائدې خبرې پريښودل دي- (الصمت لابن ابي الدنيا مع موسوعه، ج: 7، ص: 87، حديث: 112)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د اِنسان ښکلا څۀ ده؟

خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خپل خوږ ترۀ حضرت عباس رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ ته ارشاد وفرمائيلو: ستا ښکلا(ښائست) زۀ ډير حيران کړے يم- حضرت سیِّدُنا عبّاس رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ عرض اوکړو: يا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! د اِنسان ښکلا څۀ ده؟ نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد وفرمائيلو: د هغۀ ژبه- (ادب الدنيا والدين، ص: 241)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د خوږ اقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نصيحت

د جنَّت د ځوانانو سردار، صحابي ابن صحابي حضرت امام حسين رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ بيانوي:چي ما خپل خوږ نيکه بابا، د مکے مدينے سلطان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وليدو چي صحابهٔ کرامو عليهمُ الرّضوَان ته يې کتل او نصيحتونو يې ورته کول پۀ هغې کښې يو دا هم دے: "چي زيرے دے د ھغه چا د پاره ځوک چي د فضول خبرو نه منع شو-" (حلية الاوليا، ج:3، ص:236، حديث:3817)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دُعا

حضرت انَس بن مالِک رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ بيانوي چي حضور نبي اکرم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دري ځله دا خبره ارشاد وفرمائيله: " اللّٰه پاک دي پۀ هغۀ رحم اوکړي! چي ځوک خبره کوي نو فائده (يعنې ثواب) حاصلوي او چي خاموشه اوسيږي نو سلامت اوسيږي-" (شعب الايمان، ج:4، ص:241، حديث:4938)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د اللّٰهُ ربُّ العِزّت د کرم نظر د کرځيدو علامت

د امام حسن بصري رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمان دے: د اِنسان پۀ بے فائدې کارونو

کښې مشغوليدل د دې خبرې علامت (يعني نخښه) ده چې الله پاک د هغهٔ نه خپل د رحمت نظر ګرځولے دے- (التمهيد لابن عبدالبر، ج: 4، ص 179)

## د فضول خبرو کوونکو ګناهونه د ټولو نه زيات

صحابي ابن صحابي حضرت سيِّدُنا عبد الله بن ابي اوفٰی رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُما بيانوي:چې مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلے دے: د قيامت پهٔ ورځ به پهٔ خلقو کښې د ټولو نه زيات ګناهونه د هُغه چا وي څوک چې ډيرې لايعني (يعني بے کاره، فضول) خبرې کوي- (جامع صغير، ص: 86، حديث: 1386)

شرح حديث: ځکه چې څوک ډيرې خبرې کوي پهٔ هغې کښې به بے کاره او د شريعت خلاف خبرې هم ډيرې وي نو د شريعت خلاف د خبرو سره به د هغهٔ ګناهونه زياتيږي او دې طرفته به د هغهٔ پام هم نهٔ وي- (التيسير شرح الجامع الصغير، ج: 1، ص200، فتاوىٰ رضويه، ج: 28، ص: 645 تسهيلاً)

## د حضرت عبد الله ابن ابي اوفٰی ذِکرِ خير

راځئ چې د دې روايت بيانوونکي صحابیِ نبي حضرت عبد الله ابن ابي اوفٰی رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُما مبارک حالات واورو، د هغوئي نوم: عبد الله بن ابي اوفٰی او کُنيت: ابو مُعاويه دے-

## د زکوٰة ورکوونکی د پاره دُعا

صحابي ابن صحابي حضرت سيِّدُنا عبد الله بن ابي اوفٰی رَضِیَ اللہُ عَنۡہُما بيانوي:چې د نبي كريم صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خدمت كښې زما والد (ابي اوفٰی رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ زكوٰة راوړو او حاضر شو نو نبي كريم صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ورته دا دعا اوكړه: اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی اٰلِ اَبِیۡ اَوۡفٰی يعنې اے الله! د ابو اوفٰی په آل باندې رحمت نازل كړې! (بخاري، ج: 1، ص: 504، حديث: 1497 مختصراً)

حضرت مفتي احمد يار خان رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡہ د دې حديث شريف وضاحت ليكلے دے:چې حضرت عبد الله رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ د فخر په طور د الله پاک شكر ادا كوي چې د حضورِ انور صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دعاګانې مونږ او زما والدِ محترم ته هم ميلاؤ شوې دي- بعضو وئيلي دي چې دلته لفظ آل زائد دے خو حق دا دے چې آل په خپله معنیٰ كښې دے، حضورِ انور صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم صرف دغه خلقو ته نه بلكې د هغوئي د بال بچ او د ټول كور والؤ د پاره هم دعاګانې كوي- (مرآة المناجيح، 11/3)

## د صحابیِ نبي رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ سره د امامِ ابو حنيفه رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡہ ملاقات

په مِرات كښې دي:چې حضرت سيِّدُنا عبد الله بن ابي اوفٰی رَضِیَ اللہُ عَنۡہُما

کوفه کښې په 87 هجرئ کښې وفات شوے اخري صحابي دے- هغوئي په ځغه صحابهٔ کرامو عَلَيهِمُ الرِّضوَان کښې دے د چا سره چې حضرت امام ابو حنيفه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ ملاقات کړے ځکه چې د هغوئي د وفات په وخت د امام اعظم رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه عمر مبارک 7 کاله (او د بعضو په نزد 17 کاله) وو- (نزهة القارى، 70/1 ماخوذاً، مرآة المناجيح، 382/5) وو- د الله رَبُّ العزّت دې په هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي په وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي-

اٰمِيْن بِجَاهِ خاتَمِ النَّبِيِّن صلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## فضول خبرې څهٔ ته وائي؟

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** حضرت امام محمد بن محمد بن محمد غزالي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه په "احياءُ العلوم" کښې فرمائي: چې د يوې خبرې (يعنې لفظ) نه د دې (خبره کوونکي) مقصد (يعنې مطلب) حاصليدے شي او هغه دوه خبرې (يعنې دوه الفاظ) استعمال کړي نو دويمه خبره به فضول يعنې د حاجت (يعنې ضرورت) نه زياته وي- (احياء العلوم، 141/3) که چرې په يو لفظ کار نهٔ کيږي نو په داسې حالت کښې دوه يا د ضرورت مطابق چې څومره

هم الفاظ وئيلے شي هغه فضول نۀ دي- پۀ کومو خيزونو کښې چې نقصان دے او مُؤاخَذه (يعنې پوښتنه) او عذاب دے د هغې نه بچ کيدل خو د هر اِنسان د عقل تقاضا هم ده، خو چې کومې خبرې داسې وي د کومو نه چې نۀ څۀ فائده وي او نۀ څۀ نقصان هغه هم پۀ حقيقت کښې د نقصان خبرې دي ځکه چې څومره وخت يې دا خبرې اوکړې پۀ هغې کښې ذِکر او درود لوستلے کيدے شو، تلاوت کيدے شو- د دې فائدو ضائع کيدل که نقصان نۀ دے نو نور څۀ دي؟ بيا چې کله فضول خبرې شروع شي نو بعضې وخت د خلقو بدو او غيبتونو ته رسي- لهذا خير پۀ دې کښې دے چې چپ شي يا د الله پاک ذکر اوکړي، او د ضرورت مطابق د دنيا لږې خبرې اوکړي کومې چې د جائزو چارو پۀ باره کښې وي، د دنيا د جائزو خبرو زياتوالے هم پۀ زړۀ کښې د سخت والي پيدا کيدو ذريعه جوړيږي-

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## خاموشي که چرې د اخرت د فکر نه خالي وي نو غفلت دے

د حضرت عيسٰى عَلَيْهِ السَّلَام ارشاد مبارک دے چې د الله پاک د ذِکر نه چې کومې خبرې خالي وي هغه لَغو (يعنې فضول) دي او کومه خاموشي چې د اخرت د فِکر نه خالي ده هغه غفلت دے- او کوم نظر چې د عبرت

نه خالي دے هغه فضول او بے کاره دے- هُغه گَس مبارک (یعني برکت والا) دے د چا پۀ خبرو کښې چې د اللّٰه پاک ذکر وي ، د چا پۀ خاموشۍ کښې چې غور او فکر وي، د چا پۀ سترګو کښې چې عبرت وي - (تنبیه الغافلین، ص: 115)

## غفلت څۀ ته وائي؟

**اے د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو!** د حضرت عیسٰی عَلَيْهِ السَّلَام پۀ دې فرمان مبارک کښې دا هم دي "چې کومه خاموشي د اخرت د فکر نه خالي وي هغه غفلت دے-" راځۀ چې ځان پوهه کړو چې غفلت څۀ څیز دے- پۀ " التَّعرِیفات " کښې دي: اَلْغَفْلَةُ: مُتَابَعَةُ النَّفْسِ عَلٰى مَا تَشْتَهِيْهِ یعني " نفس پۀ خواهشاتو پسې لګولو ته غفلت وائي-" (التعریفات للجرجاني ص: 116)

د غافِلانو پۀ مذّمت کښې د قرانِ کریم پۀ 9 سیپاره سورة الاعرَاف، آیت 205 کښې د اللّٰه پاک ارشاد دے:

وَ اذْكُرْ رَّبَّكَ فِيْ نَفْسِكَ تَضَرُّعًا وَّ خِيْفَةً وَّ دُوْنَ الْجَهْرِ مِنَ الْقَوْلِ بِالْغُدُوِّ وَ الْاٰصَالِ وَ لَا تَكُنْ مِّنَ الْغٰفِلِيْنَ (۲۰۵)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او خپل رَبّ پهٔ خپل زړهٔ کښې یادوئ پهٔ ژړا سره او پهٔ ویرې سره او پهٔ اوچتوالي سره پهٔ لږ کم اواز کښې سحر او ماښام، او د غافِلانو نه مه کیږئ-

## زما پهٔ تاسو باندې د غفلت ویره ده

د بخاري شریف پهٔ یو حدیث شریف کښې دا هم دي چې: پهٔ الله پاک مې دې قسم وي! زما پهٔ تاسو باندې د فقر (یعني د غریبۍ) ویره نشته خو زما سره دا ویره ده چې پهٔ تاسو به دنیا خوره کړے شي څنګه چې ستاسو نه مخکښې پهٔ نورو قومونو باندې خوره کړے شوې وه، بس تاسو به هم د دې دنیا د پاره د مخکښینو خلقو پهٔ شان پهٔ خپل مینځ کښې مقابله کوئ، او دا به تاسو پهٔ غفلت کښې وغورځوي څنګه چې دې مخکښیني قامونه غافِله کړي وو- (بخاری، 4/225 تا 226، حدیث:6425)

## بلکې د نمونځونو پهٔ قضا کیدو ژاړم

پهٔ "مُکاشفة القُلُوب" کښې دي چې: حضرت سیِّدُنا شیخ ابو علي دَقّاق رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه فرمائي: یو ډیر لوئي وليُّ الله رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه سخت بیمار وو، زهٔ د تپوس د پاره حاضر شوم، ګیر چاپیره د مُعتَقِدینو ګڼه ګُڼه وه، هٰغه بزرګ رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه

ژړل- ما عرض اوکړو: اے شیخ! آیا د دنیا پۀ پریښودو ژاړې؟ وه یې فرمائیل: نا، بلکې پۀ نـمونځونو قضا کیدو ژاړم- ما عرض اوکړو: حضور ستاسو نه نـمونځونه څنګه قضا شول؟ وه یې فرمائیل: ما چې کله هم سجده اوکړه نو د غفلت سره او چې کله مې هم د سجدې نه سر رااوچت کړو نو پۀ غفلت سره او اوس پۀ غفلت کښې د مرګ طرفته روان یم، بیا یې یو سوړ اسویلے اوکړو او د عربئ څلور شعرونه یې ووئیل د کومو ترجمه چې دا ده: ﴿1﴾ ما د خپل حشر (یعنې د واپس راژوندې کیدو)، د قیامت د ورځې او قبر کښې د خپل مخ د پریوتو پۀ باره کښې غور اوکړو ﴿2﴾ (ما ته د میلاؤ شوې) دومره عزت او لوړ والې نه پس به هم زۀ یواځې پروت یم او د خپل جرم پۀ وجه به ګانه یم او خاوره به زما بالښت وي ﴿3﴾ ما د خپل اوږد حساب او د اعمال نامې راکولو پۀ وخت د رسوا کیدو پۀ باره کښې هم سوچ اوکړو ﴿4﴾ خو اے زما پیداکوونکیه او زما پالونکیه! زما ستا نه د رحمت امید دے، تۀ زما خطاګانې بخښوونکے یې- (مُکاشفة القُلوب، ص: 22)

## پۀ ژړا ژړا به دوزخ ته ځي

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** پۀ دې واقعه کښې څومره عبرت دے! لږ

دي الله والؤ خلقو ته وګورئ د چا هر ساعت چې د الله پاک پۀ ياد کښې تيرېږي خو بيا يې هم د عاجزۍ دا حالت دے چې خپل عبادتونه او رياضتونه به يې پۀ هيڅ خاطر کښې نۀ راوستل او د الله پاک د بے نيازۍ او د هغۀ د پټ تدبير نه به ويريدل او ژړل به يې- پۀ هغه غفلت وهونکو باندې پۀ کروړونو ځل افسوس چې د نيکۍ د نون ټکے قدرې د هغوئي پۀ چاپېرې کښې نشته، د اخلاص پکښې د لرې لرې پورې نوم او نشان نشته خو حال يې دا دے چې د خپلو عبادتونو پۀ غټو غټو دعوو کولو نۀ ستړي کيږي! د الله پاک نيک بندګان به د ګناهونو نه د بچ کيدو باوجود رپيدل ويريدل او اوښکې به يې توئيولې، خو د غفلت کوونکو بندګانو حال دا دے چې بے دريغه نافرمانۍ کوي، د خپلو ګناهونو عام اعلان کوي او بيا پۀ برق برق خاندي او نۀ شرميږي، د زړۀ پۀ غوږو واورئ! پۀ مُکاشفة القُلوب کښې دي: حضرت سيِّدُنا ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُما فرمائي: "څوک چې پۀ خندا خندا ګناه کوي هغه به پۀ ژړا ژړا دوزخ ته ځي -" (مُکاشفة القُلوب، ص: 275)

گُناہوں سے مجھ کو بچایا الٰہی!

بُری عادتیں بھی چُھڑایا الٰہی!

(وسائلِ بخشش، ص: 100)

## بزرګ په خوب کښې زیرے ورکړو

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! د غفلت د خوب تختولو، د ګناهونو عادت پرېښودو او په سنتو د عمل جذبې زیاتولو د پاره د دعوتِ اسلامي د سنتو زده کولو او ښودلو د مدني قافلو سفر اوکړئ- ستاسو د ترغیب د پاره یو ایمان تازه کوونکے "مدني سپرلے" وړاندې کوو: د وهاړي پنجاب یو اسلامي ورور دیني ماحول ته د راتلو نه مخکښې په مختلف قسمه ګناهونو کښې اخته وو، هغه په جسماني طور خو صحت مند وو خو د عبادت په معامله کښې ډیر کمزورے وو، په ورو ورو چې ځنګه ځوانۍ ته نزدې کیدو نو د نیکو نه لرې کیدو- په ګناهونو کښې یې ژوند تیرولو- سندرې، فلمونه، ډرامې، دروغ، غیبت او قسما قسم ګناهونو کښې به یې وخت تباه کولو او صرف دومره نۀ بلکې د هغۀ د ډاؤن لوډنګ دکان وو د کوم په ذریعه چې به یې پخپله خو ګناهونه کول خو نورو ته به یې هم په موبائل کښې فلمونه، ډرامې، سندرې ډاؤن لوډ کولې او د هغوئي په ګناه کښې به هم شامیلیدو او د دې به یې پیسې هم اخستې- د هغه ژوند په ګناهونو کښې ډوب وو، د دې پورې چې هغه ځان د دنیا د ټولو نه خراب اِنسان ګڼلو، البته د دعوتِ اسلامي سره د هغۀ د ماشومتوب نه محبت وو د کومې په وجه چې به هغه په څۀ نا څۀ طریقه د

اسلامي ورونړو سره رابطه کوله او د دريو ورځو د مدني قافلې مسافر جوړ شو- مدني قافله کښې هغۀ ته ډير څۀ د زدکړې د پاره ميلاؤ شول، د کومو پۀ وجه چې د هغه محبت د دعوتِ اسلامي سره نور هم زيات شو- يوه ورځ چې دا د کور د حالاتو پۀ وجه خفه وو او د دغه خفګان پۀ حالت کښې چې کله هغه اوده شو نو خوب يـې وليدو چې يو بزرګ هغۀ ته وائي چې " وړوکے ورور دې د ځان سره کړه فيضانِ مدينه (کراچۍ) ته راشه ، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! هر څۀ به ټيک شي-" دې اوريدو سره هغه د خوبه رابيدار شو- بيا هغۀ خپل کور والؤ ته دا خوب بيان کړو او وړوکے ورور يـې د ځان سره فيضانِ مدينه کراچۍ ته د بوتللو اجازت وغوښتو، د هغوئي کور والا رضا شول- فيضانِ مدينه کراچۍ ته د رسيدو سره هغوي دواړو د ټول رمضان اعتکاف اوکړو، اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الْکَرِیم د اعتکاف پۀ برکت سره هغوئي د خپلو غلطو کارونو نه توبه کړه او پۀ سر يـې عمامه شريف کيښوده او د دې سره سره د حضورِ غوثِ اعظم رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه پۀ مريدانو کښې هم شامل شو-

**اے د اولياؤ رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْهِم عاشقانو!** پۀ ځوانۍ کښې توبه وکړئ او د اللّٰهُ ربُّ العِزّت پۀ اطاعت او فرمانبردارۍ کښې مشغول شئ ډير لوئي سعادت دے- د اللّٰه پاک د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: "پۀ ځوانۍ کښې

توبه کوونکے ګَس د الله پاک محبوب (یعنې خوښ) دے-" (کتاب التوبة مع موسوعه امام ابن ابي دنیا، ج: 3، ص: 422، حدیث: 184) خپله ځواني پۀ عبادت کښې د تیروونکي به د قیامت پۀ ورځ د عرش سورے نصیب کیږي- (مسلم ص: 399، حدیث: 238) صوفیائے کرام فرمائي چې د ځوانۍ عبادت د بوډا توب د عبادت نه افضل دے ولې چې د عبادت اصلي وخت ځواني ده-

کر جوانی میں عبادت کاہلی اچھی نہیں
جب بڑھاپا آگیا کچھ بات بن پڑتی نہیں
ہے بڑھاپا بھی غنیمت جب جوانی ہو چکی
یہ بڑھاپا بھی نہ ہو گا موت جس دم آگئی

(مرأة المناجیح: ج: 3، ص: 167)

الله ربُّ العِزّت دې مونږ د ژوند د اخري سلګۍ پورې فرمانبرداره وساتي او پۀ عبادت کښې دې راته اخلاص او خوند رانصیب کړي-

اٰمِیۡنۡ بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د خبرو کولو او چپ اوسیدو دوه قِسمونه

د رسول الله صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان دے: اِمۡلَاءُ الۡخَیۡرِ خَیۡرٌ مِّنَ السُّکُوۡتِ وَالسُّکُوۡتُ خَیۡرٌ مِّنۡ اِمۡلَاءِ الشَّرِّ یعنې ښه خبره کول د خاموشه اوسیدو نه بهتره ده

او خاموشه اوسیدل د بدې خبرې کولو نه بهتره ده- (شعب الایمان ج: 4، ص: 256، حدیث: 4993) حضرت علي بن عثمان هجویري حنفي المعروف داتا ګنج بخش رَحۡمَةُاللهِعَلَیۡه په "کشفُ المحجوب" کښې فرمائي: چې کلام (خبرې) په دوه قسمه دي- یو قسمه کلامِ حق (یعنې ښې خبرې) او دویم قسم کلامِ باطِل (یعنې غلطې او بے کاره خبرې)، دغه شان خاموشي هم په دوه قسمه ده- ﴿1﴾ با مقصده خاموشي (مثلاً د اخرت فکر یا په شرعي حکمونو د غور وغیره د پاره چپ اوسیدل) ﴿2﴾ د غفلت نه ډکه (یا مَعَاذَالله! د ګنده خیالونو یا د دنیا د بے ځایه خیالونو نه ډکه) خاموشي- هر یو کس ته د خاموشۍ په حالت کښې ښه غور پکار دے چې که چرې د هغۀ وینا حق (یعنې ښه) وي نو بیا وئیل د هغۀ د خاموشۍ نه بهتر دي او که چرې د هغه وَینا باطِل (یعنې غلط یا فضول) وي نو په داسې موقع باندې خاموشي د هغۀ د خبرو نه بهتره ده- حضور داتا ګنج بخش علي هجویري رَحۡمَةُاللهِعَلَیۡه د کلام د حق یا باطل په باره کښې د پوهه کولو د پاره یوه واقعه بیانوي او فرمائي: حضرت ابوبکر شبلي بغدادي رَحۡمَةُ اللهِعَلَیۡه یو ځل د بغداد شریف په یوه محله تیریدلو او یو ګس نه یې داسې خبرې واوریدې چې: اَلسُّکُوۡتُ خَیۡرٌ مِّنَ الۡکَلَامِ یعنې "خاموشي د خبرو کولو نه بهتره ده-" حضرت ابو بکر شبلي رَحۡمَةُاللهِعَلَیۡه وفرمائیل: "(په هر حالت کښې

خاموشي ښه نۀ ده لهٰذا) ستا ( د دې جملې) وئيلو نه ستا خاموشه پاتې کيدل بهتر دي او زما خبرې کول ستا د خاموشئ نه بهتر دي-" (کشف المحجوب ، ص 402 ماخوذاً)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د ژبې پۀ حفاظت نۀ کوونکي شيطان غلبه مومي

"بَک بَک" کوونکي باندي شيطان غالبه کيږي، ځکه چې کله اِنسان زيات قړتن وي نو د خطاګانو امکان زياتيږي- او کيدے شي چې شيطان پۀ هغۀ باندي پۀ ګناه کولو کښې کامياب شي- البته ځوک چې د خاموشه اوسيدو عادت دے هغه پۀ شيطان غالبه (يعني ګټه) ترلاسه کوي- د حضرت ابو سعيد خُدري رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه روايت دے، يو ګس د مکې مدنې د تاجدار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پۀ خدمت کښې عرض اوکړو: يا رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! ما ته څۀ نصيحت اوکړئ- سرکارِ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد وفرمائيلو: د الله پاک تقویٰ لازمي اونيسه د ټولو نيکو (خيرونو) اصل (يعني جرړه) ده او جهاد لازمي اونيسه چې دا د اهلِ اسلام رهبانيت (پۀ ګوټ کښې کيناستل) دي او د ذِکر الله او د قرانِ پاک د تلاوت پابندي کوه دا به ستا د پاره پۀ زمکه کښې نُور او پۀ اسمانونو کښې ستا د ذِکر سبب وي- او د کلمۀ خير (يعني د ښې

خبرې) نه علاوه د خپلې ژبې حفاظت اوکړه چې د دې په وجه به تهٔ په شيطان غلبه ومومې- (معجم صغير، ج:2، ص:66)

## د شيطان د ټولو نه غټه وسله

حضرت امام محمد بن محمد غزالي رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ په " احياءُ العلوم " کښې فرمائي: د اِنسان په بے لارې کولو کښې ژبه د شيطان د ټولو نه غټه وسله ده- (احياء العلوم، ج:3، ص: 133)

صَلُّوۡاعَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## صدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ به په خُله کښې کاڼي ايښودل

د مسلمانانو وړومبي خليفه، عاشقِ اکبر، حضرت صديقِ اکبر رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ د قَطعي (يعني يقيني) جنَّتي کيدو باوجود د ژبې په معامله کښې ډير احتياط کولو، په " احياءُ العلوم " کښې دي چې: " حضرت ابوبکر صديق رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ به په خپله خُله مبارکه کښې کاڼي ايښودل چې د خبرو کولو هډو موقع نهٔ وي-" (احياءُ العلوم، ج:3، ص: 137)

## 40 کاله د خاموشۍ مشق (واقعه)

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! که چرې واقعي تاسو د خاموشۍ عادت

خپلول غواړئ نو دا به سنجیده اخلی، او د خاموشۍ پوره مشق به کوئ ، ځکه چې پۀ معمولي غونډې کوشش د خاموشۍ عادت جوړول ډیر ګران کار دے- د ژبې د غیر ضروري استعمال د تباهۍ نه د ځان ویرولو سره د خاموشۍ عادت جوړولو پوره کوشش اوکړئ اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْکَرِیم! کامیابي به مو قدمونه ښکل کړي- راځئ چې د یو کوشش کوونکي د استقامت یوه واقعه واورو، حضرت اِرطاه بن مُنذِر رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: یو صاحب د خاموشه اوسیدو داسې " مشق " کولو چې پۀ خپله خُله کښې به یې کاڼي اچول، د دې پورې چې ( د نمونځ یا ذکرونو یا) خوراک څښاک یا د اودۀ کیدو نه علاوه به یې د خُلې نه کاڼي نۀ لرې کول- (الصمت مع موسوعه ابن ابي الدنيا ج: 7، ص: 256، قول نمبر 438)

## خبرې لیکلو والا او د هغې جائزه اخستلو والا تابعي بزرګ

تابعي بزرګ حضرت سیِّدُنا ربیع بن خُشیم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د 20 کالو پورې د دنیا خبرې پۀ ژبه نۀ وې کړې، چې کله به سحر شو نو قلم او دوات او کاغذ به یې راواخِستو او ټوله ورځ چې به یې چې څۀ وئیل هغه به یې لیکل او ماښام به یې خپله مُحاسَبه (یعنې د ځان حساب کتاب) کولو- یعنې د هغه لیکلو مطابق به یې د خپلو خبرو جائزه اخستله- (احیاء العلوم (اردو) ج: 3، ص: 339، احیاء العلوم، ج: 3، ص: 1)

## د خبرو اترو د جائزې طریقه

د خپلو خبرو اترو د "جائزې" اخستو طریقه دا ده چې پۀ خپله هره خبره غور اوکړې او د خپل ځان سره احتساب اوکړې، مثلاً بغیر د ژبې خوزولو نه پۀ زړۀ زړۀ کښې د ځان نه پوښتنه اوکړې چې فلانکۍ خبره تا ولې اوکړه؟ پۀ دغه ځائے کښې د خبرې کولو څۀ ضرورت وو؟ فلانکۍ خبره پۀ دومره الفاظو کښې هم ختمیدے شوه خو پۀ دې کښې مې فلانکے فلانکے لفظ زیات ولې ووئیلو؟ د فلانکي سره د خبرو پۀ وخت د پوهیدو وروستو څۀ؟ جي؟ څۀ مو ووئیل؟ وغیره مې ولې ووئیل؟ او مخامخ ګس ته دې د خپلې خبرې بیا کولو تکلیف ولې ورکړو؟ فلانکي ته چې تا کومه جمله ووئیله هغه زړۀ ازاروونکې ملنډې وې، تا بر ناحقه د هغۀ زړۀ خفه کړو یا راځه اوس توبه هم اوباسه او د هُغه اسلامي ورور نه معافي هم وغواړه، فلانکي بیټک ته ولې لاړې چې تا ته معلومه ده چې هلته فضول خبرې هم کیږي او پۀ فلانکۍ فلانکۍ خبره کښې تا د ښه سره ښه ولې کړې وو؟ هلته دې غیبت هم واوریدو بلکې تا له غیبت اوریدو خوند هم درکړے وو راځه پخه توبه او د داسې بیټکونو نه د ډډې کولو کلکه اراده اوکړه- داسې یو پوهه اِنسان د خپلو خبرو بلکې د خپلې هرې ورځې د معاملو جائزه اخستے شي- داسې ګناه، بے احتیاطۍ، خپلې بعضې کمزورۍ او خامیانې مخې ته راتلے شي او اصلاح یې کیدے شي- د دعوتِ اسلامي دیني ماحول کښې

مُحاسَبې ته هم جائزه وئيلے شي او د دعوتِ اسلامي " ديني ماحول " کښې هره ورځ کم ازم کم 12 منټه د اعمالو جائزه اخستے شي او دغه وخت کښې د نيک اعمال رسالې ډکولو ذهن جوړولے شي۔

ذِکرو دُرُود ہر گھڑی وِردِ زباں رہے
میری فُضُول گوئی کی عادت نِکال دو


(وسائل بخشش، ص: 305)

## د اعمالو جائزه

ټولو عاشقانِ رسول له پکار دي چې هره ورځ کم نه کم 12 منټه د خپلې ټولې ورځې د اعمالو جائزه واخلي او د دعوتِ اسلامي د مکتبة المدينه پۀ رساله " نيک اعمال " کښې ورکړے شوې خانې ډکې کړي او د هرې مياشت پۀ ورومبئ نيټه يې د دعوتِ اسلامي د " شعبهٔ اصلاح اعمال " د نزدې ذمه دار سره جمع کړي۔ اِنْ شَاءَاللّٰهُ الْكَرِيم! د ښه اخلاقو او د تقویٰ غټه خزانه به پۀ لاس ورشي او د عشقِ رسول ډک جامونه څکل به مو نصيب شي۔

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ايندڙ هفتي جو رسالو





فيضان مدينه محله سوداگران، پراڻي سبزي منڊي، ڪراچي

+92 21 111 25 26 92 0313-1139278

www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net

feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net